اکثر پوښتل شوې سوالونه [ایف ا ي کیوز]

د پولیو نه د متاثره شوۀ هیوادونو څخه د سفر کونکو لپاره ایف اي کیوز

## ولې د ډبلیو ایچ او [د روغتیا د نړیوالي اداري] ډایرئکټر جنرل د پاکستان نه د سفر کوونکو لپاره سفارشات ورکړي دي؟

- په موجوده وخت کښي د پولیو وایرس د نړۍ د دري هیوادونو څخه خورېږي پاکستان، شام او کیمرون
- د کال ۲۰۱۴ د مئ په پنځمه نیته ډبلیو ایچ او په نړیوال کچ د پولیو خطرناک وایرس خوریدلو په بابله د عام صحت د فکر کولو د پاره د هنګامی حالت اعلان وکړو او د هنګامی حالاتو سره د مقابلي په هدف یي د ائی ایچ آو [۲۰۰۵] تر مخه په وختي توګه د سفارشاتو یو مجموعه خوره کړه.

- پاکستان چي د هغه ملکونو نه یو دي د چرته نه چي په کال [۲۰۱۴] کښي د پولیو وایرس خور شوي اوس د نړیوال سفر لپاره په وختي سفارشاتو عمل کوي.

## پاکستان ته او د پاکستان نه د نړیوال سفر لپاره دغه نوی سفارشات څه معنی لري؟

- د وختي سفارشاتو تر مخ حکومت له دا یقیني کول پکار دي چي ټولو اوسیدونکو او د اوږدي مودي لپاره راغلو خلقو ته د پولیو ویکسین دوه څاڅکي وشي او د نړیوال سفر کولو نه مخکښي خپل د څاڅکو کولو سرټیفیکټ تر لاسه کړي.
- د نړیوال سفر کوونکو له د روانیدو نه مخکښي د څلورو اونیو او دولسو میاشتو تر مینځه د پولیو ویکسین دوه څاڅکي اخستل پکار دي.
- هغه څوک چې په هنګامی توګه په سفر روانيږي هغوی دي کم از کم د روانیدو په وخت د ویکسین یو خوراک واخلي/وخوري
- د پولیو د ویکسین سفارشات په سفر کوونکو لویو او وړو دواړو یو شان لاګو کیږي-د زاړه عمر وکړي/کسان په نړیوال کچ د پولیو وایرس په خوریدو کښي مهم کردار لوبولي شي ځکه تر دي چې/د دوی د مخکښي نه ویکسین شوی وی خو بیا هم د پولیو خطرناک وایرس خورولي/خارج کولي شي.

## څوک به ویکسین کولي شي/چاته به ویکسین کولي شي؟

- د هر عمر ټولو سفر کوونکو ته د پولیو ویکسین اخستل/خوړل پکار دي د خولي له لاري د پولیو ویکسین [او پی وی] دوه څاڅکی د وایرس د خوریدو د مخنیوی لپاره تر ټولو موثره لاره/طریقه ده.
- حاملي زنانه/میرمنی هم باید چې ویکسین شي ځکه چې او پی وی او غیر فعال پولیو ویکسین [ای پی وی] دواړه د حاملو زنانو/ښځو او د دوی د نه زیږیدلی شوؤ ماشومانو لپاره ډیر محفوظ دی
- او پی وی به هغه مریضانو ته نشی ورکولی د چا د مدافعت د قوت نظام د کومو معلومو مرضونو/ناورغتیاؤ یا دوایانو/علاجونو له امله زیلي شوي وي-د قوت مدافعت زیل شوی مریضان د آیی پی وی سره په محفوظه توګه ویکسین کیدلی شی

## څه که چري زه/د پولیو ویکسینیشن ثبوت نه لرم؟

- د روانیدو په وخت به پاکستان د ویکسینیشن ثبوت غواړي اګر چي د پولیو نه پاک هیوادونو/ملکونو کښې وختي سفارشات نشته خو بیا هم ځیني هیوادونه دغلته داخلیدو نه مخکښې د پولیو ویکسینیشن غواړي [لکه سعودی عرب، هندوستان] نور هیوادونه د پولیو وایرس د خوریدو مخنیوی لپاره پخپله د اضافي اقداماتو کولو فیصله کولی شی

## ما له څه کول پکار دی چی د سفر کولو نه یی مخکښې وکړم؟

- ټول پاکستاني اوسیدونکي او هغه راغلی خلق چي په پاکستان کښې د څلورو اونیو نه زیات اوسیدلی وي نو دوی به د نړیوال سفر کولو نه مخکښې د څلورو اونیو او دولسو میاشتو تر مینځه د او پي وي یا ایی پي وي یو خوراک خوري.
- مهارباني وکړی یاد ولری چي ځینی هیوادونه د پولیو نه متاثره شوو هیوادونو د مسافرو لپاره د پولیو ویکسینیشن څه خاص شرطونه لري نور هیوادونه د پولیو وایرس د خوریدو د مخنیو لپاره په بیله توګه د اضافی اقداماتو کولو فیصله کولی شي مهربانی وکړئ کوم هیواد ته چی تاسو سفر کوئ د هغی قونصل خانه کښې معلومات وکړی چي ایا د ویزي لپاره د درخواست کولو نه مخکښې ویکسینیشن کولو ته ضرورت شته.

- د پاکستان نه تلونکو مسافرو له پکار دي چي باید د حکومت د وکسینییشن په کارډ د خپل ویکسینیشن حالت ریکارډ ولری یا د ډبلیو ایچ او/ایی ایچ آر (زیړ کتابګوټی) د ویکسینیشن نړیوال سرټیفیکیټ یا پروفلیکسز ولري کوم چي د ښکته کولو دپاره په لاندی لنک کښي شته دی:

[/http://www.who.int/ihr/ports_airports/icvp/en](http://www.who.int/ihr/ports_airports/icvp/en/)

- د پولیو نه د پاک هیوادونو مسافر کوم چي پاکستان ته ځي او دغلته د څلورو اونیو نه زیات وخت د پاتي کیدو پروګرام لري هغوی، له پکار ده چي د خپل ترتیب شوي سفر نه وړاندي د پولیو د ویکسینیشن د خوراک اخستلو/خوړلو بندوبست وکړي کله چي دوی اوغواړي چي پاکستان پریږدی او خپل کور ته ستانه کیږي نو بیا به له دوی نه د ویکسینیشن ثبوت غوښتلی شی.

کوم ځای کي زما ویکسینیشن کیدائ شي؟

- پاکستان کښي د پولیو د ویکسین دوه څاڅکي او سرټیفیکیټ په ټولو لویو هسپتالونو کي په نړیوال ویکسین کاونټر، اي ډي او، د صحت دفترونو او ضلعي هیډکوارټرز هسپتالونو کښي شته دي- ویکسین او سرټیفیکیت ویړیا ورکولي شي.
- ویکسین او سرټیفیکیټ د پرائیویت طبي ډاکټرانو سره /او کلینکونو کښي نشته صحیح تصدیق باید چي د حکومت د ویکسینیشن په کارډ یا ډبلیو ایچ او/ایې ایچ آر په زیړ کتابګوټي کښي وشي.
- هغه مریضانو چي د طبي عذرونو له امله ایې پي وي ویکسینیشن ته ضرورت لري له پکار دي چي د خپل ډاکټر په واسطه د نیشنل هیلت سروسز ریګولیشن او کوارډینیشن د وزارت سره رابطه وکړي